ژورنال بین المللی فرهنگ پوهنتون تخار

Research Article

نویسنده مسوول: محمدکبیر هوتک
تاریخ دریافت: ۱۴۰۴/۶/ ۳
تاریخ قبول: ۱۴۰۴/۸/ ٦
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/ ۱۱/ ۳۰

# د درویش په شعر کې عاطفي درد

پوهنمل محمد کبیر هوتک و پوهنمل عبدالحلیم عثمانی
عضو کادر علمی دیپارتمنت زبان و ادبیات پشتو پوهنتون تخار
ایمیل:.hotak.mkabir@gmail.com.

**لنډیز**

په پښتو معاصره شاعرۍ کې درویش یو مخکښ ځلانده نړیوال ستوری دی چې شعري وړتیا او ادبي محوریت یې ټول بشریت ته اوبه ورکوي؛ د یاد شاعر په شعري کلام کې د عاطفې ټول اړخونه په شاعرانه هنر سره راغلي دي. موږ چې کله له عاطفې څخه بحث کوو مطلب مو په انساني تفکر کې انساني عکس العملونه دي، لکه: غم، خوښي، هیله، ناهیلتوب، ویره، تعجب، پیرزیونه او دې ته ورته نور داسې احساسات او حرکتونه چې د شاعر په فکر، ذهن او زړه کې را وخوځیږي په ویلو یې د ځان په ګډون مخاطبین او لوستونکي متاثره کړي، عاطفه یا عواطف ورته ویلای شو.

زموږ په ادبي ماحول کې د یادې برخې څیړنه په نشت سره ده؛ نو ددغې اړتیا له مخې موږ همدغه برخه د (درویش په شعرکې عاطفي درد) د ده له ګڼو شعري ټولګو څخه په څېړنیز شکل را غونډ کړ. شعر د خپل خاصیت له مخې د انساني ژوند له کړاونو او خوندونو څخه سرچینه اخلي؛ ولې یو شمېر لیکوالان بیا ادعا کوي چې شعر د ولس ژبه نه ده، داځکه چې ټول وګړي د شاعرانو په خبرو سم نه پوهیږي.

**کلیدي کلمې: سیمبول، شعر، عاطفه، ولسي درد.**

## EMOTIONAL PAIN IN DARWISH’S POETRY

**Abstract**

In contemporary Pashto poetry, Darwish is a prominent and brilliant international figure whose poetic talent and literary centrality nourish all humanity; in the poet’s poetic work, all aspects of emotion are presented through poetic art. When we discuss emotion, we mean human reactions in human thought, such as grief, happiness, hope, despair, fear, surprise, successes, and other similar feelings and movements that arise in the poet’s mind, thought, and heart, and affect the audience and readers, including himself; these can be called emotion or emotions. Research on this part in our literary environment is almost absent; therefore, due to this need, we compiled this part in a research form from Darwish’s numerous poetry collections under the title (Emotional Pain in Darwish’s Poetry). However, by its nature, takes its source from the pains and pleasures of human life; however, some writers claim that poetry is not the language of the people because not all people fully understand what poets say.

**Keywords**: Emotion, Poetry, Public Pain, Symbol.

**سریزه**

بسم الرحمن الرحیم. الحمدالله رب العالمین والصلواة والسلام علی سیدالمرسلین و قاید المجاهدین و علی اله و اصحابه المتادبین: عواطف او لُطف دلوی څښتن تعالی له سپېڅلوصفاتو څخه دی، سره له دې چې د لوی رب یو نوم قهار او جبار دی، ولې خپله مینه او لورینه یې له مخلصو بنده‌گانو او مخلوقاتو څخه نه ده سپمولې. لکه څنگه چې په مقدس کلام گې وایي: ﴿**اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ**﴾ ﴿الشوری،**۱۹**﴾ ژباړه: الله پرخپلو بنده‌گانو ډېر مهربانه دی، چاته چې یې څه خوښه وي روزي ورکوي؛ هغه ډېر برلاسی دی.

له ډېرې پخوا زمانې څخه په ادبي نړۍ کې دا دود وه: هره هغه موزن کلام چې وزن او قافیه ولري شعر بلل کېږي. دا پېژندنه له خپل عصر او موسم سره برابره وه، ځکه چې د بشریت په لومړنیو پېړیوکې د انساني خیال وزرې هغومره نه وې تیت شوي، لکه څنگه چې په معاصره نړۍ کې یې د خپل مخاطب په لټه کې ذهن بوخت ساتلی دی. په لرغوني عربي او اریایي ادبیاتوکې د شعر لپاره هماغه وزن او قافیه یو اصل ؤ، خو د معاصر شعر په راتگ سره پورته تعریف تش د نظمي کلام پرمحور پاته شو؛ اوسني شعرځانته یو نوی تعریف غوره کړی: په آهنگینه ژبه د فکر او خیال عاطفي تړون ته شعر ویل کېږي. همدې تعریف ته په کتو سره متخصصو ادیبانو او شاعرانو دشعر لپاره څلور ستنې(خیال، عاطفه، احساس او اهنگ) غوره وگڼل؛ چې د همدغه فورمول او تلې پر بنسټ نن د نړۍ پر هرگوټ کې معاصر شعر تلل کېږي.

زموږ د پښتو ژبې په معاصرو شاعرانوکې یوه مخکښه څېره قدرمن درویش درانی دی، د دراني شعري بڼ له هر ډول ځانگو او گلانو څخه مغموم دی. شعري کلام یې د شعر په معاصره تله سکښتل شوی دی، نو له دې وجې موږ هم د خپلې مینې او ذوق پر اساس د یاد شاعر په شعري سیند کې د عواطفو سلواغې را ټولې کړې؛ چې گڼ اړخونه یې لکه: شخصي، ټولنیز او انساني عواطف یې درلودل، د هریوه بېلگه مې په مرتب شکل په لاندې کرښو کې ستاسو گرانو لوستونکو مخ ته اېښې ده، هیله ده چې د درویش غوندې لوی شاعر پر شاعرۍ باندې زموږ نیمگړی تحلیل د زغم وړ وگڼئ..

**د څېړنې اړتیا**

د یادې څېړنې اړتیا په دې کې ده چې تر دغه دمه په پښتو ژبه او ادب کې د ښاغلي درویش پر شعرونو هر اړخیزې څېړنې شوې دي، ولې د عواطفو برخه یې تشه وه، هیله ده چې زموږ دغه څېړنه یې یاده تشه ډکه کړي.

**د څېړنې ارزښت**

ددې څېړنې غوره ارزښت به دا وي چې، شاعران اوعام وگړي به د درویش د شعر په طرز او خوند باندې ښه پوه شي، د یادې څېړنې په مرسته به شاعران او لوستونکې د شاعر د نورو شعرونو عاطفي سیمبولونه هم وپېژني.

**د څېړنې موخې**

زموږ موخه له دې څېړنې څخه د درویش دراني په شاعرانه بهیرکې د عاطفې موندنه ده، چې یاد شاعر په خپله شاعرانه دنیا کې د عاطفې کوم اړخونه کارولې دي. په شعرکې یې عاطفه شتون لري او کنه؟ شعري عواطف یې څومره اغېزناکه دي؟ بشري ټولنې ته له کومې زاویې دنه شوی؟ ایا دی هم لکه د تېرې زمانې درباري شاعرانو په څېر پر شخصي عواطفو را گرځي؟ او یا هم د یوې انساني ټولنې په بطن کې یې ځان سوځولی دی؟

**د څېړنې میتود:** کتابتوني، تشریحي او توضیحي دی.

**د درويش په شعرکې عاطفي درد**

عاطفه په لغت کې له لطف او مرحمت څخه اخستل شوې؛ اصطلاحاً هره هغه کړنه او وينا چې د مخاطب لوري پر وړاندې متکلم او يا هم فاعل خپله مينه او حوصله مندي وښا يي عاطفه ورته ويلای شو. د عاطفې اړوند به ډېر ليکوال او ادبپوهان خپل تعبير ولري، خو موږ به په لاندې کرښو کې د الله د رسول«ص» او د يو څو مشهورو ادبپوهانو تعبير او له عاطفې څخه د پيغام اخستلو مفهوم تاسوته وړاندې کړم.

د ترحُم او عاطفې اړوند د بشريت ستر لارښود حضرت محمد ص داسي ويلي دي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الرَّاحِمُوْنَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمنُ، اِرْحَمُوْا مَنْ فِيْ الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِيْ السَّمَاءِ.( الترمذي، ۱۴۱۷، ج ۱، ص.۴۸۳، ن، ۱۹۲۴).

ژباړه: د عبدالله زوی له عمرو څخه روايت کوي، دی وايي: چې رسوال الله ص وويل: د مهربانه او رحيم ذات پر هغه چا پيرزوينه او شفقت وي؛ چې د چا پر نورو ترحُم، شفقت او پيرزوينه وي. تاسو د ځمکې پر مخلوقاتو باندې ترحُم وکړئ، تر څو د اسمان والا چې(الله تعالی او ملائيکې دي) پر تاسو ترحُم او مهرباني وکړي.

معاصر ليکوال او ادبپوه احسان الله درمل په خپل شعرستان نومي کتاب کې د عاطفې تر عنوان لاندې د فارسي ادبياتو د مشهور اديب دوکتور تقي پور نامدارايان تعبير داسې را وړی دی(( له عاطفې څخه موخه د غم، خوښی، يأس، اميد، غوسې، حيرانی، تعجب، او... هغه رواني حالتونه دي چې د شاعر په ذهن کې دعيني يا ذهني پيښو په پايله کې پيدا کېږي او شاعر له يوې ذهني پيښې سره مخ کوي؛ عاطفه د شعر مهم عنصر دی چې د شعر د نقد پر مهال ترې سترګې نشو پټولی))(درمل، ۱۳۹۷، ص.۳۲۹).

د فرهنګ عميد ليکوال حسن عميد په خپل فرهنګ فارسي عميد کې ليکي: عاطفه به معنی شفقت، مهر وعلاقه خويش و قرابت، عطفات و عواطف جمع ان است(عميد، ۱۳۸۷، ص.۸۵۵).

د پورته ليکوالو د تعبير په څېر د زاهد پښتو پښتو سيند ليکوال عبدالقيوم زاهد ليکي: عاطفه د عاطف مونث، مهرباني، زړه سوی، د خپلوۍ او قرابت مهر په معنی کارول کېږي(زاهد، ۱۳۸۵، ص.۶۸۷).

له پورته تعريفونوڅخه ښکاري چې عاطفه يوازې زړه سوی او غمګيني نه ده، لکه موږ چې فکر کوو، بلکې د انسان ټول طبعي غبرګونونه لکه: غم، ښادي يأس، غوسه، حيراني، وېره او... عواطف دي. معاصر شاعر صديق پسرلی څومره ښه وايي:

ماشومو عاطفو ته شرايط وړپېژنم  
تندۍ زرکې د غرونو په لمن کې ګرځوم  
(درمل، ۱۳۹۷، ص.۳۲۸)

د پسرلي له پورته شعرڅخه داسې پيغام اخلو چې عاطفه تنها لورينه نه ده، بلکې د شرايطو او حالاتو سره د زړه درد او انساني طبعيت له بې پروايۍ څخه د ويښتيا په لور را بلل دي. شاعر په پورته بيت کې ښکلي هنري الفاظ کارولي دي، چې د همدې الفاظو مجازي معنی د بشري ټولنې پر نا خبره او نوي نسل باندې ښه صدق کوي. د درويش دراني په لاندې شعر کې عاطفه د غم او ويري له ډلې څخه ده لکه چې وايي:

داچې زړيږي مخامخ درته په دار سرونه  
په دې وطن کې بس همدغه وه د کار سرونه  
(درمل، ۱۳۹۷، ص.۳۲۹)

د پښتو خوږ ژبی شاعر عبدالرحمان بابا له لاندې بيت څخه د عاطفې او لورينې اوښکې داسې دي لکه ګرځنده اوريځې څخه چې اوبه څاځي.

که يو څاڅکی اوبه تږي لره ورکړې
دا به ستا او د دوزخ تر ميان درياب شي
(درانی، ۲۰۱۸، ص.۱٦۹)

دې کې شک نشته چې تږي ته اوبه ورکول ثواب لري او دا يوه ستره مهرباني ده، دغه شان عاطفه ممکن د هر بشر په زړه کې وي، ولې کوم عواطف چې رحمان بابا په خپل کلام کې کښلي دي، د سړي زړه غواړي چې د اوبو ګوډی په اوږه کړي او خپل ټول ژوند تږو ته د اوبو په ور کولو ولګوي.

د معاصر شاعر شمس القمر انديش په لاندې بيت کې د يأس عاطفه څومره ژوره تللې ده چې په لوستلو يې هر څوک خپل د ژوند بهير ته متوجه کوي لکه چې وايي:

زه د پسرلي د باد په څېر شومه
ګل ته مې سلام وکړی او تېر شومه
(درانی، ۲۰۱۸، ص.۵۴)

په لاندې بيت کې د معاصر غزل بلبل، د محرومې طبقې ويښ انده شاعر عبدالروف زاهد په خپل شعرکې د غم يو تصوير په عاطفي ژبه وړاندې کړی دی؛ خپلو مخاطبينو ته يې د موجوده حالاتو نا انډوله مسير او د ځان اراده يې پکې څرګندېږي لکه چې وايي:

اوس ګزاره د زړه په وينه کوو
حالات چې ښه شي بيا به مينه کوو
سر مو که ځي که مو پرېکيږي ژبه
ولې اشنا خبره سپينه کوو
زاهده خير دی دښمن دې کوي
موږه به له هرچا سره مينه کوو
(بريالی، ۱۴۰۱، ص.۲۴٦)

د پورته بيت په څېر د استاد پسرلي په لاندې بيت کې د حيرانۍ او تعجب شعر ته عاطفي زمينه برابره کړې ده:

د عدم غيږکې، سوکه ويده وو
نه خير و شر و، نه بد او ښه وو
که بيا عدم وي، نو لويه خدايه
د پاڅېدلو، مطلب موڅه وو
(درمل، ۱۳۹۷، ص.۳۳۰)

شاعر په پورته بيتونو کې د الله تبارک وتعالی او د بشريت د پيدايښت هغه لوی شان او شوکت ته د يوې پوښتنې په شان نغوته کوي، يعنې اې د بشريت خالقه! سره له دې چې همدغه دنيا فاني ده، د انسانانومغروريت او بې باکې تاته ښه معلوميدله، چې دوی به په يو لوی امتحان کې پرته له شکه راځي.

د موضوع د ښه روښانتیا لپاره به د معاصر لیکوال دکتور احسان الله درمل صاحب یو څو ادبي کرښې د عاطفې اړوند ستاسو مخته کېږدم: ځینې کره کتونکي شعر د عاطفې زیږنده بولي، حقه خبره کوي، خو بې عواطفو شعرونه هم کم نه دي. عاطفه د چاپیریال او حوادثو پر وړاندې، چې انسان یې د حواسو له لارې جذبوي، د انسان د ذهن عکس العمل دی. قدرمن درمل صاحب د لا ښه وضاحت لپاره د عاطفې داسې بېلګه را وړي: که ستا پر وړاندې یو کس وژل کېږي، دا حادثه ته دخپلوحواسو له لاري په تدریجي توګه خپلې حافظې ته سپارې، نو د قتل دا پیښه ستا پر ذهن یو اغېز شندې؛ ته خپه کېږې، ژاړې، یا حتی ممکن خوشحاله شي، خو ستا په درون کې یو ډول بدلون راځي، چې ستا وجود تر نارمل فیزولوژیک حالات توپیر لري؛ په وجود کې دغه نوی را منځته شوی بدلون او اغیز عاطفه ده، چې د قتل پر وړاندې ستا د عصبیي سیستم له عکس العمله رازېږي. نو له دې کبله ویلای شو چې زموږ په ادبي متونو کې کله مینې او زړه سوي ته عواطف ویل کېږي، حالا دا چې کرکه او غوسه هم عواطف دي، ځکه دا دوه حالتونه هم د یو ډول جلا پېښنو پر وړاندې د عصبي سیستم له غبرګونه پیدا کېږي(درمل، ۱۳۹۷، ص.۳۳۱).

ادیبانو او شاعرانو عواطف په ډولونو ویشلي دی، چې د هر یوه تحلیل او تعبیر بیل دی؛ د ډاکټر احسان الله درمل د تحلیل له مخې شاعرانه عواطف درې ډوله دي، زموږ د څېړنې او تحلیل په اند هم عواطف په درو ډولونو ویشلای شو؛ دا ځکه چې عاطفي تجلیات د هر شاعر د(زه) سیوري دي او د هر شاعر (زه) د هغه د وجود په پراخوالي پورې اړه لري، چې هغه په خپله فرهنګي حوزه کې له ژونده څومره شناخت لري. د ځینو شاعرانو عواطف د یوه کوچني او محدود (زه) څخه منشأ اخلي او دځینو (زه) متعالي او انساني وي، نو له دې کبله ویلای شو چې په عمومي ډول د شاعرانو عواطف په( شخصي، ټولنیز او بشري یا انساني عواطفو) باندې ویشلای شو.

**شخصي عواطف:**

دغه ډول عواطف د شخص پورې اړوند دي، یوازې یو کس یعنې شاعر، لیکوال، ادیب... او داسې نور اشخاص یې د (ځان او زه ) تر محدویت ته پورې څرګند وي؛ مطلب دا چې شعر د یوه ځانګړي انسان دګټو او د لچسپیو ښګارندو یي کوي. موږ په شاعرانه دنیا کې ډېر داسې شاعران لرو چې شعري مسیر یې پر شخصي عواطفو ولاړ دی؛ که څه هم دا به د هغه شاعر او لیکوال د خپل ضمیر غوښتنه وي، مګر دا به له حقیقت څخه لیري نه وي چې کوم راز او محبوبیت په ټولنیزه او انسان شموله عاطفه کې شته په شخصي او ځاني عاطفه کې یې نه شو موندلای.

د شخصي عاطفې بېلګې مو په لاندې کرښو کې وړاندې کړې دي. د دراني له شاعرانه ژوند څخه موږ دا لاست راوړه چې درویش په یوې دردېدلي ټولنې کې ژوند کړی، د ځان او ټولنې اړوند یې ډول ډول کړاونه لیدلي، شاعرانه لید لوري یې بشري ټولنه نه ده هېره کړې، تر ډېره برېده یې کوښښ کړی چې په شاعرانه انداز د بشري او انساني ټولنې دردونه تصویر کړي. په لاندې کرښو کې به د ښاغلي درویش په شعر کې د عواطفو پر اقسامو څه تبصیره وکړو..

زما داوښکو ځاځکې دي جهان دی نور څه نه سته
باران دی او باران دی او باران دی نور څه نسته
که زه ورځینې ژاړم او که زه ورپسې ژاړم
جانان دی او جانان دی او جانان دی نور څه نشته
(درانی، ۲۰۱۳، ص.۳۹)

له شعر سره د عاطفې اړېکي د شعر تر بل هر عنصر ډېرې ژورې دي، شعر په آهنګینه ژبه د فکر او خیال له عاطفي ترونه رغېدلی شکل دی؛ په دې تعریف کې د فکر او خیال تر منځ عاطفي ترون په شعر کې د عاطفې نقش ته اشاره کوي. فکر ،خیال، عاطفه، آهنګ.. د شعر ذاتي توکي دي، خو ډاکټر احسان الله درمل په خپل شعرستان کې د فارسي ژبې نقاد شفیعي کدکني له قوله وایي:((که په شعرکې

د عاطفې تله سپکه شوه، نو شعر مري )). د یاد نقاد خبره د شعر د مواثریت او جذابیت په تله کې مستغني ده؛ رښتیا هم د شعر خوند په مینه، درد، کرکه، تعجب، غوسه، ژړا، خندا، یأس، ویره..چې د عاطفې اجزا ورته ویلای شو پکې درنده او اغیزناکه ده؛ پرته له پورته ځېزونو څخه په شعر کې به هیڅ اغیز پاته نه شي.

د دراني پورته شعر له شخصي عواطفو څخه منشأ اخلي، درویش خپل جانان د عاطفې په ویرکې را حصار کړی، هرڅه یې اوس د هغه په درد او هجران پورې تړلي دي، لوږه او ژوره ، غم او ښادي، رڼا او تیاره، روغتیا او ناروغي.. ټوله د جانان پورې اړوند دي. اوس د جانان عاطفي درد دومره زور دی، چې یاد شاعر خپل مسیر هم نشي ټاکلای؛ دا په دې معنی چې دوی تقریباً یو جسد او دوې ارواوې گرځېدلي دي. ژړا او خندا دواړه د عاطفي هوش یوه محرکه برخه ده، د عطُفت دغه درد او خوشحالي تر دې حده اغیزناک وي چې انساني جوله کې بدلون را ولي.

اوښکې په څه باندې کړم وچې خدایه څه لرم زه
لستوڼی شته خو په لستوڼي کې لاس نه لرم زه
لمن مې ډکه ده په کاڼو، خوڅوک نه پرې ولم
په عادتونو کې دا یو عادت د غره لرم زه
(درانی، ۲۰۱۱، ص.۲۰۵)

شاعر په پورته شعر کې له سترې نا هیلۍ سره مخ دی او د عاطفي قوه د یأس برخه یې په نظمي او ډېر اغیزناک شکل تصویر کړې ده؛ شاعر که څه هم په شعر کې الفاظ ډېر روان او ساده را وړي دي، ولې په عین ساده والي کې کلمې یې سمبولیکې دي؛ له هر لفظ څخه ممکن بېلابېلې معنی وي وزېږي. یاد شاعر شاعرانه عاطفې او یا هم د ژوند ناهیلۍ دې ته مجبور کړی دی، چې له هرڅه لاس په سر شي. پورته شعرکې ممکن لستوڼي په سیمبولیکه ژبه د ملگرو، ولس، ټولنې اوامکاناتو... پیغام وړاندې کړې، ولې د دغه ټولو موجوده امکاناتو سربېره شاعر په عاطفي تعجب کې را گیر دی، غمونه او دردونه پر ځان گالي، خو چا ته څه زیان نه رسوي..

ماخپله توره کړه د ورور په زړه کې ماته خدایه
چې دښمن راغی زه په دوه لاسو وم پاته خدایه
په اوښکو مینځم زه درویش دا خپل خنجر له وینو
د خپل د ښمن پر حال ژړا راغله وماته خدایه
(دُرانی، ۲۰۰۰، ص.۲۲۹)

پښېماني هم د عاطفي درد یوه برخه ده، دغه برخه هلته اغیزناکه وي چې سړی د ژوند کړاونه په تجربه باندې ثابته کړي. مطلب دا چې یاد انسان له هغه ډول پېښو او عکسل العملونو سره مخ شي چې هیڅ ډول تصور یې نه ترې کیدئ. پورته شعر له پښېمانیو څخه ډک په تجربه ولاړه عاطفه لري. شاعر خپل د ژوند د یوه تریخ مهال تصویر په شاعرانه الفاظو سره کښلی دی. درویش سره له دې چې د ژوند یوه کسیه یزه برخه یې بیان کړې ده، ولې عاطفي درد بېغمه نه دی پرې ېښی، تر دې چې په یاده پېښه کې یې دخپل دښمن پر حال هم ژړلي دي، او دایې ژړا چې له یوې ژورې عاطفې او احساس څخه سر چینه اخلي. د درویش د شخصي عاطفې یوه بله بېلگه به پرته له تحلیل څخه ستاسو مخته کېږدو.

په شان د مړي دي مدام زه پر اوږو گرځوم
سترې ژوندونه تا به دا رنگه تر څو گرځوم
ستا د تندي کرېږ وږې لیکي مینځل غواړم

دا چې د سترګو کاسې ډکې له اوبو ګرځوم

(درانی، ۲۰۱۱، ص.۱۸۵)

**۲- ټولنيز عواطف**

مخکې موږ د عواطفو پر معنی او مسیر باندې نسبتاً ژور بحث وکړی، دا مو هم وويل چې عواطف درې عمده برخې لري، د هرې برخې خپل خپل تاثرات دي، د سارې په توګه: تر شخصي عواطفو اجتماعي عواطف اغیزناک وي او تر ټولنيز عواطفو بيا انساني عواطف د ټول بشر پر محور را څرخي. په لاندې بيتونو کې به د ټولنيزې عاطفې درد وګورو چې شاعر يې څومره متاثره کړی دی.

د مرګ د سوداګرو خبر هره ورځ راځي

دې ښارته په سوغات کې يو سر هره ورځ راځي

(درانی، ۲۰۱۱، ص.۲۲۰)

په پورته شعرکې عاطفه شخصي نه ده، بلکې له ټولنې او وطن سره ژورې اړيکه لري، په دې لحاظ يې تر هغو شعرونو عطفي حوزه لويه ده چې د شخصي غوښتونو پر لمسه ويل شوي دي. شاعر د ټولنې درد او د حالاتو کړاونو ښه زورولی دی، هرڅه په خپلو سترګو وينې، د خپلې ټولنې غم ګالي، پېښې او ناخوالې د قلم پر ژبه ترسيمه وي، د شعر په لوستلو سره د هر لوستونکې ټولنيزعاطفي درد په جوش او خروش راځي، ممکن احساساتي ځوانان يې ياد شعر د حماسي ترانو په شان له ځانه سره زمزمه کړي.

د پورته شعر تر ټولو ستره عطفي جنبه داده چې شاعر خپل شعر د زمان او مکان پر زولانه نه دی تړلی، بلکې د هرې زماني او مکاني پيښو پر مهال خپل تاثرات شندي.

منزل لري لاره ورانه، زه هم ستړی ته هم ستړی

څه دي خوښه ده ارمانه؟ زه هم ستړی ته هم ستړی

نه مې ته شې هېرولای، نه زما له خياله وزې

څه پخلا به شو جانانه، زه هم ستړی ته هم ستړی

(درانی، ۲۰۱۱، ص.۱۹۷)

په پورته شعر کې شاعر له ځان څخه ور ها خواته پر يو بل چا باندې هم زوربېري، څومره يې چې پرځان باندې زړه بد دی، هغومره يې د مقابل لوري پر حال باندې هم د زړه عاطفي قوه شرارت مومي. شاعر په ياد شعرکې منفرد نومونه را وړي دي، خو موږ يې په ټولنيز ژوند کې ښه تعبير لرو، ځکه چې د پخلاينې او خوابدتيا تر شاه نورې ډلې ولاړې وي، د هرې ډلې خپلې خپلې غوښتې دي، نو په دې وجه شاعر په همدغه نا معلوم مسيرکې دردېدلی، ژړېدلی، پښېمانه شوی، دغه ټوله عاطفي دردونه په مقابل لوري کې هم وينې؛ د همدغه شان مخالفت او کدورت بر سېره عاطفي مينه يې د سولې او پخلاينې کورته را غواړي، تر څو له لالهاندی څخه وژغورل شي.

درويشه زه غواړم پښېمانه دښمن وبخښمه

مګر ياران وايي خبره د بدل به کوې

(درانی، ۲۰۱۳، ص.۴۶)

مخکې مو وويل چې د ټولنيزې عاطفې يوه ځانګړنه داده چې په اجتماعي ژوند کې هر څوک کولای شي چې ياد ټولنيزې عاطفې شعرخپل د ژوند يو مثال وګرځوي؛ لکه په پورته بيت کې: درويش اجتماعي عاطفې دې ته مجبوره کړی دی، چې پر پښېمانه دښمن باندې خپل لورينه وکړي او له هرڅه څخه تېر شي، خو د ده د دغه عاطفي کړنې پر وړاندې د ځينو ځان غوښتونکو رايه بيا سمه نه ده.

داستا د جبر هر داستان، هره قیصه پاتېږي
دغه ګرځونه د تاریخ پر ائینه پاتیږي
پلار یې د مرګ سوداګر باسي په تاریکه شپه کې
ویده ماشومه پر سپېره غولي ویده پاتېږي
ددغه کلي اخیري کډه همدا ده بار شوه
ددغه کلي اخري ډېوه هم مړه پاتېږي
(درانی، ۲۰۱۱، ص.۲۱٦)

شاعر اجتماعي عاطفې او کلیوالي مینې په خپل غیر کې را حصار کړی، د حالاتو ظلم، د ستمګرانو جبر، د قاتلینو وحشت یې نور نه دی زغملی، عواطف یې په جذبه او جوش راغلي، د دوی هره ظالمانه کړنه یې تصویر کړې ده. که څه هم چې په یوه خاوره کې قانونمنده نظام مسلط نه وي، جګړه او قدرت غوښتنې خپل اوج ته رسېدلي وي؛ په داسې حالاتو کې ډېری ټولنیز او حماسي شاعران خپل د ولس درد او ستونزې په شعري ژبه تصویره وي. درویش هم یو له هغو مخکښو شاعرانو څخه دی چې د ټولنې درد او نا وړه حالاتو ته په غفلت کې نه دی ناست؛ بلکې هرې پېښې او غمېزې ته یې ژور کتلي، په عاطفي ژبه یې تر مخاطبینو رسولې ده.

**۳-بشري یا انساني عواطف**

په انساني ټولنه کې ځینې عواطف مشترک دي؛ مثلا سره له دې چې حسن نسبي دی، خو د حسن پر وړاندې دانسان فطري غبرګون مینه ده، او دا په ټولو انسانانو کې مشترکه عاطفه ده؛ همدا رنګ اخلاقي اقتدار او ظلم د ټولو انسانو لپاره یو تعریف نه لري، خو بیا د جنګ، ظلم او تشدد پر وړاندې د انسانانو غبرګون سره ورته دی. هغه شاعري چې پرمشترکو انساني عواطفو شوې وي، د مکان او زمان له بریده ازاده شاعري ورته وایو، او د ټولو انسانانو عواطف یو ډول خوځووي؛ مثلا یو عاطفي غبرګون په ماضي پسې ارمان دی، موږ ګڼ داستانونه، کیسې او اسطورې لرو چې محتوا یې د تېر پسې ارمان دی، لکه د درویش په لاندې شعر کې:

ځواني له سړي یو سي، تور ویښته له سړي واخلي
کرار کرار لګیا وي وخت هرڅه له سړي واخلي
زموږ دا غمخواره هم دي په شان د سوداګرو
تازه غمونه را وړي او زاړه له سړي واخلي
(درانی،۲۰۱۳ ، ص.٦۷)

موږ دې موضوع ته نغوته وکړه چې د انسانانو ځینې عواطف مشترک وي، شاعر په پورته بیت کې یوه داسې عاطفه کارولې، چې د ټول بشر ورته سودا ده؛ که څه هم د الله تبارک وتعالی په جوړه دنیا کې د ټولو مخلوقاتو ژوند له مبدأ او انتها سره تړلی دی؛ خو انسان بیا د نورو په پرتله له ډېرو حوسونو او تلوسو سره مخ دی. درویش په پورته شعر کې د انساني ژوند غوره انځور کښلی، چې دغه شان د عمر تېرېدل او د ژوند لوړو ژورو ته د ټول بشریت پام وي، د پورته شعر درد او عاطفه د ټولو انسانانو ګډې غوښتنې دي؛ نو له دې وجې ویلا شو چې شاعر په یاد شعر کې محدویت نه دی کارولی، بلکې هغه درد او زوال ته یې اشاره کړې، چې د نړۍ په کچه د هر بشر لاسونه ورته تړلي دي..

که یې نه پېژنې دغه یې نشان دی
چې په سترګو کې یې اوښکې وي انسان دی
(درانی، ۲۰۱۳، ص.۴۹)

انسانان په ټولوکې له درد او کړاو سره لاسوګریوان وي، شاعر په پورته شعر کې یوه ژړېدونکې عاطفه کښلې او داسې شان عاطفه د ټول بشریت تر منځ مشترکه ده، رښتیا هم کوم انسان چې په انساني ټولنه کې ژوند وکړي، حتما له دغه شان عاطفې سره مخ کیږي. زموږ د پښتو ژبې خوږ ژبي شاعر عبدالرحمان بابا دغه عاطفه په څومره یوه اجمتاعي انداز سره کښلې ده:

زړه يې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی

په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نه شي

(مومند، ۲۰۰۱، ص.۳۵)

د پورته په څېر استاد دراني بشریت ته د یوې بلې زاویې څخه کتلي دي، د انساني ژوند مبدأ يې په عاطفي او سیمبولک امیزه شان لیکلې ده؛ په لاندې بیت کې د حضرت یونس ع د ژوند پېښو ښه تمثیل وړاندې شوی؛ او یا هم چې کله یو انسان له دغه شان ستونزو سره مخ شي، نو له الله پرته بل څوک ورته د لاس نیوی توان نه لریي.

په سمندر کې یو درویش په ډوبېدو ؤ خدایه

ته ئې د مرستې په نیت راغلې،کناره دي راوړه

(دراني، ۲۰۱۱، ص.۲۱۰)

خدایه د هر سړي په کار د وینو جام دی دلته

زما زخمونو ته د ټولو خلکو پام دی دلته

د تېرو تورو سوداګر دي په دې ډېر خوشحاله

د هر سړي په زړه کي اور د انتقام دی دلته

(دراني، ۲۰۱۱، ص.۲۲۷)

شاعر په پورته بیت کې د هرسړي تر عنوان لاندې یو عاطفي سیمبول کارولی دی، چې دغه سیمبول په هر ځای کې خپل اغیز شندي؛ درویش استاد له یوې مظلومې طبقې له درد او زخمونو څخه غږېږي؛ ددغه مظلومې ټولنې پر وړاندې چې کوم د جبر او وحشت قوت ولاړ دی، هغه په انساني ټولنه کې د ټولو کمزورو طبقو دښمن دی. د تېرو تورو سوداګر یو وحشت لرونکی عاطفي سیمبول دی، چې له بشریت څخه حُریت اخلي او دغه شان وګړي خپله ګټه د نورو په زیان کې ګوري. دهغوی له وینې څخه خپله وینه او دهغوی له نا معقول انتقام څخه خپله بریا لاسته راوړي.

**پایله**

نه په زاړه باور لرو او نه په نوي څراغ

موږ هغه څوک یو چې کورونو مو دي سوي څراغ

(دراني، ۲۰۱۱، ص.۲۳۷)

عاطفه، د شعر یو اساسي رکن دی، په هره هغه شعر کې چې عاطفه کمزورې وي، په حقیقت کې هغه شعر مړ او عمر یې لنډ وي؛ ما د درویش شاعر په شعري مخزن کې دده عاطفي درد په بېلابېلو ډولونو کې وموند؛ درویش داسې یوه شاعري کړې ده چې د اوسني عصر د ګوتو په شمار شاعران به یې تر څنګ ودرېږي. یاد شاعر له (زه) څخه پر ټولنیز او بشریت باندې ډېر لورېدلی؛ هره عاطفي چیغه یې د انسانیت پر محور د احساساتو اوبه شندې، دین،وطن، ناموس او مظلوم باندې یې ډېرې دردونکې ساندې ویلې دي، شعري ژبه یې ډېره ساده ولې په عین حال کې سیمبولیکه ده. هر لوستونکی به یې د خپل درد او وړتیا مطابق وسپړي، د موضوع د نه اوږدوالي له کبله مې د دراني شاعر څو بیتونه تش د بېلګو په ډول را وړي دي؛ هیله ده چې ګرانو لوستونکو ته په یاده موضوع کې څه لار پرانیزي.

**اخځلیکونه**

القرآن الکریم،

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۷). *د وطن نندار*ه *دشعر په هنداره کې*.کابل :د افغانستان علوم اکاډمی.

باجوړی، بریالی.(۱۴۰۱)معاصر ادبتاریخ اوښتون پړاو.جهان دانش خپرندویه ټولنه.

الترمذی، محمد بن عیسی. (۱۴۱۷). سنن الترمذی. تصحیح آلبانی. ریاض: مکتبة المعارف.

درمل، احسان الله.(۱۳۹۷).شعرستان. کابل: سروش کتاب پلورنځی.

دُرانی، درویش.(۲۰۱۸).کره کتنه او دهغې زغمل.کوټه:صحاف نشراتي موسسه.

دُرانی، درویش (۲۰۱۳).په ناورین پسې ناورین. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

دُرانی، درویش (۲۰۱۳).دا بوټي به لونګ شي. لاهو: صحاف نشراتي موسسه.

ـ دُرانی، درویش (۲۰۱۱).ستوري په لمن کې. کراچي: صحاف نشراتي موسسه.

کابل مجله (۱۳۹٦). د عواطفو او تصویرونو لبریزي.کابل: علوم اکاډمي.

مومند، عبدالرحمان (۲۰۰۱).دعبدالرحمان بابا کلیات.پیښور.

وږمه مجله (۱۳۹۸).په پښتو نثر کې عاطفي درد. کابل: د کابل پوهنتون مطبعه.